لیکوال: حمید راز
کاپی ایدیت/نشر: ago-team
maqalat@afghan-german.de

نیټه ۲۰۱۰/۱۰/۱۳

# دهند د پونې په پوهنتون کې
## دپښتنو زده کوونکو په وړاندې دسیسوکې دچا لاس دی؟

هندو ستان هغه هېواد دی چي دتاریخ په اوږدو کي د افغا نستان سره ژورې تاریخي، سیاسي او فرهنګي اړیکي لري د افغانانو او هندیانو تر مینځ دغه دوستانه اړیکي سلګونو او زرګونو کلونو ته رسیږي. په هندوستان کې ډېرو پښتنو واکمنانو پا چاهي کړې ده چي ښه بېلګه یې د غلجیانو(خلجیانو)، لودیانو، سوریانو او په بنګال کې دکرلانیو پاچاهانو نومونه یادولای شو. سر بېره پردې په هندوستان کې پټانانو یا پښتنو ډېر شمېر ریا ستونه او علمي مرکزونه موجود وو چي رامپور، مالېر کوټله، ټونک، بهوپال، لوهارو، شولا پور، خان پور، فرخ اباد، جو ناګړه، کهمبي، منیر پور، رادهن پور، جاوره، کرنال، کنجپوره، باوني، پالن پور، بالا سنور، کوروایي او نورو.

پټانانو یا پښتنو د هند د آزادۍ په غورځنګ کې فعال رول لوبولی دی او دهندوستان په آزادۍ کې ډېرو پښتنو خپل سرونه قربان کړي دي چي یوه بېلګه یې دهند د آزادۍ یو مشهور اتل پښتون شهید اشفاق الله خان دی چي انګرېزي سا مراج له خوا یې د شهادت جام څښلی دی چي د هند آزادۍ په هره کالېزه کې یې ویاړلی نوم په ویاړ سره یا دیږي.

په دې برسېره فخر افغان خان عبدالغفار خان چي د مهاتما ګاندهي نږدې ملګری، د عدم تشدد د فلسفي پلوی او هندیانو ورته د سرحدي ګاندهي لقب ورکړی و دال انډیا کانګرس فعال غړی او د انګرېزي سامراج سر سخته دښمن و.
همدا راز په هندي ټولنه کې پټان د صداقت، زړورتیا، په ملګر توب کې ټینګ او د وفادارۍ سمبول ښودل شوی دی. ان تردې چي دهند مشهور لیکوال او د نوبل د جایزې ګټونکي بنګالي شاعر رابیندرانات ټیګور په خپل مشهور اثر کابلي والا کې د یوه پټان رحمت خان انځور په ښه شان کړی دی چي څومره د سپېځلتوب، وفاداري او مینې سمبول دی.

لکه چي د مخه مو وویل هندوستان د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو سره فرهنګي اړیکي لري او ډېر شمېر افغاني محصلین او زده کوونکي د هندوستان د بورسونو نه په ګټې اخېستلو سره د هندوستان په بېلا بیلو پوهنتونو لکه د حیدر آباد په عثمانیه پوهنتون ، د پنجاب په پوهنتون چانډیګړ ، راجستهان پوهنتون جیپور، پونې پوهنتون مهاراشترا، ډهلي پوهنتون، جامعهٔ ملیه اسلامیه پوهنتون ډهلي، جواهر لال نهرو پوهنتون ډهلي، علیګړه مسلم یونیورسټي یوپي، د بنګلور په پوهنتون او نورو علمي مؤسسو او انستیټوټونو کې په زده کړو بوخت دي چي موږ د هند د دولت ددې مرستو نه چي د ځوانو افغانانو په روزنه کې یې کوي دزړه له کومې مننه کوو.
هغه ستونزه چي دپونې پوهنتون کې د افغاني زده کوونکو په وړاندې رامینځ ته شوې ده په هغه کې زه هغه نا پوهه او مغرض کسان ګرم او ملامت بولم چي په اصل کې د متعصبو ستمي کړیو او د شمال د ټلوالي پورې اړه لري.

دوی د پښتنو په وړاندې ژبني تعصبات لري او دا خبره نه شي زغملی چي ولې پښتانه زده کوونکي لکه : ریاض سادات، عمرالدین، عبیدالله، شفیع الله، مصطفی، قیس شینواری، عبد الر حیم، عبدالعظیم، فهیم سادات ، فیض افغان دومره لیاقت او پوهه لري.

دبلې خوا دغه متعصبه ستمیان او د شمال د ټلوالي سره تړلي محصلین چي اکثره یې د جنګسالارانو او قاتلینو زامن دي په واسطو باندې هند ته راغلي دي او بورسونه یې اخیستي دي او په فحاشیو او عیاشیو او نورو غیر اخلا قي رذالتونو بوخت دي او شپه ورځ د شرابونشي کوي او د نجونو پسې لا لهانده وي، دوی نه درس ویلای شي او نه هم د دې جوګه دي چي څه زده کړي نو دوی چي د دغسي تکړه او لایقو پښتنو ځوانانو پوهه او علمي پر مختګ ګوري نو دا نشي زغملای نو بله چاره نه ویني پرته له دې چي دغه پښتانه محصلین او زده کوونکي په بېلا بېلو نومونه بدنامه کړي او د هند پولیسو ته دوی ناوړه معرفي کړي .

زما په اند د افغانستان دولت په دې اړه باید کوټلي ګامونه پورته کړي او د هند دولت سره د موضوع په اړوند باید جدي تماسونه ټینګ کړي. ځکه بې له کومه دلیل او جرمه د یو محصل په برخلیک او سرنوشت باندې لوبې کول یو ستر جنایت دی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په هند کې افغاني سفارت باید مو ضوع دنږدې نه بررسي کړي، داسې ویل کیږي چې په بمبئ کې افغاني قو نسل مراد علي هم دپښتنو محصلینوپر خلاف تحر یکات کوي۰

هندي پو لیس که څوک ډیپورټ کوي با یدد هغه پر خلاف کافي شواهد او اسناد ولري، نو که هسې دچا په شیطانۍ باندې څوک له خپل هېواده شړي نو دا به دقا نون خلا ف کاروي۰

د هند دولت او پو لیس با ید دافغاني محصلینو سره د پښتون او تا جیک پر بنسټ دمور او میرې چلند ونکړي ۰

په پای کې وایم چې ګر انو محصلینو! تا سو یوازې نه پرېږدو، مونږ له تا سو سره یو او ستا سو غږ به هم افغاني مقا ماتو ته رسوو او هم هندي مقا ما تو ته .

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ